**په هېواد کې د ادایني د سیستمونو عصري کول د ادایني د معاملو طی مراحل اسانوي او چټکتیا وربخښي**

لکه څرنګه چې ټول هېوادوال په جریان کې دي، د افغانستان بانک د اداینو د معیاري خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د بانکونو ترمنځ د اداینو نوی سیستم چې د نړیوالو منل شویو معیارونو لرونکی دی، د اړوندو ادارو په همکارۍ د روان کال د مرغومي په لومړۍ نېټه په بریالیتوب سره پلی کړ.

د هېواد سوداګریز بانکونه د افغانستان د بانکونو ترمنځ د اداینو له نوي سیستم سره نښلول شوي او اوس مهال له نیکه مرغه د افغانستان د بانکونو ترمنځ په منځني ډول د ورځې (۴۳۲) معاملې د نوي سیستم له لارې په اتوماتیک او په بشپړه توګه بریښنایي بڼه او د کارکوونکي له لاسوهنې پرته په خپل کاره توګه اجراء کیږي.

همدا ډول، د دولت د عوایدو او د افغانستان د ګمرکي محصولاتو راټولول هم په بریښنایي توګه او د سندونو له فزیکي طی مراحلو پرته د نوي سیستم له لارې ترسره کیږي چې تر اوسه پورې په ورځني توګه (۱۱۳) معاملې په بریالیتوب سره ترسره شوي دي.

د یاد سیستم پلي کول اوس مهال له مرکز نه پیل شوي او د تدریجي پلان پر بنسټ په ټول افغانستان کې د بانکونو نږدې ټولې نماینده ګۍ د دې سیستم تر پوښښ لاندې راغلي او د دولت د عوایدو او ګمرکي محصولاتو د راټولولو معاملې به د جغرافیایي موقعیت په پام کې نیولو پرته له هر ځای څخه د دې سیستم له لارې ترسره شي. په پام کې ده چې اوسنی بریښنایي سیستم د وخت په تیریدو سره د اداینو د مخکني سنتي سیستم ځای ونیسي.

د افغانستان بانک د هېواد د اداینو د معیاري کولو لپاره ژمن دی او له همدې امله یې تل هڅه کړې څو د سیستمونو په میکانیزه کولو سره په اداینو کې اسانتیا رامنځته او د ورکړو د بریښنایي کولو بهیر ته چټکتیا ورکړي.